HSE

Health and Safety
Executive

TUC

# ستاسو روغتیا، ستاسو سلامتي
# د کارګرانو لپاره لارښود
# Your health, your safety: A guide for workers

دغه خبرتیا د روغتیا او سلامتۍ د ادارې Health and Safety Executive (HSE) لخوا چې د تجارتی یووالی د ټولنی Trade Union Congress (TUC) سره په ګډه همکاری کوی وړاندی کیږی.

د (HSE)روغتیا او سلامتۍ اداره یوه حکومتی اداره ده چې د کارګرانو د روغتیا د ساتلو، سلامتۍ او رفاه لپاره د روغتیائي چارو او سلامتۍ د قانون د تطبیق په واسطه کار کوی، کارګرانو ته مشوری ورکوی او ملاتړ ئي کوي.

(TUC)د تجارتی یووالی ټولنه له (اویاوو) څخه د زیاتو تجارتی اتحادیو نمایندګی کوی چې له (6.5) میلیونو څخه زیات غړي لري.
دغه اداره په کار کی د معیارونو د ښه والي او صافوالي لپاره د فعّالیتونو لارښوونه کوي.

که تاسو یو استخدام شوی کارګر یاست (د بشپړ وخت لپاره یا لږ وخت لپاره، مؤقتی یا دایمی.) دغه خبرتیا درته تشریح کوی چې ستاسو حقوق څه دی، د کار له مالک څخه تاسو څه غوښتنی کولای شی، ستاسو مسؤلیتونه څه دي او کوم ځای ته د مرستی لپاره مراجعه کولی شی.

همدارنګه که تاسو یو ځوان کارګر یاست، د تجربی لپاره کار کوۍ او د کار د زده کړي په دوران کی یاست، خیریه کارګر یاست، ګرځنده کارګر یاست او یا د کور دننه کارګر یاست، پر تاسو هم دغه مادی د تطبیق وړ دی:

که تاسو مؤقتی، روزمزد، او یا د ایجنسۍ کارګر یاست، استخدام کونکی اداره، ایجنسی، د ډلی مشر، ټیکه دار یا اجاره کوونکی چې تاسو ورته کار کوۍ، قانونی وظیفه لري چې خپل ځان ډاډه کړي، هغه حقوق چې په لاندی ډول تاسو ته په نظر کی نیول شوي، لاس ته راوړۍ.

**تاسو حق لرۍ چې:**

- په داسی ځای کی کار وکړۍ چیرته چې روغتیا او سلامتۍ ته متوجه ټول خطرونه په سمه توګه کنټرول شوي وي.
- په داسی ځای کی کار تم کړۍ او هغه ځای پریږدۍ چې که تاسو فکر کوۍ په خطر کی یاست.






- خپل د کار مالک د روغتیاېی چارو او سلامتی په اړوندو مسئلو او مشکلاتو نه خبر کړی.
- د روغتیا او سلامتی د اداری (HSE) یا محلی واکمنانو سره رابطه ونیسی که تاسی د روغتیا او سلامتی مسائل لا تر اوسه لری او باید خپل ځان په مشکل کی وانه چوی.
- یوی تجارتی اتحادیي سره اړیکي ونیسی او د سلامتی نماینده و اوسی.
- که تاسو د سلامتی نماینده یاست د هغه وخت اجوره واخلی چی د ټریننګ یا زده کړی لپاره د کار څخه رخصت یاست.
- د آرام لپاره لږ تر لږه شل (20)منټه تفریح وکړی که تاسو له شپږو ساعتو (ګهنټو )زیات کار کوی، که د کار موده مو اوږده شوی وی او د کلنی مودی د با معاشه رخصتی په جریان کی یاست.

**تاسو باید:**

- د خپل ځان او د هغو خلکو چی ستاسو څه کول او یا څه نه کول پری اغیزه کوی، روغتیا او سلامتی ته پاملرنه وکړی.
- د نورو سره د روغتیا او سلامتی په اړه همکاری وکړی، او کوم هغه ځیزونه چی ستاسو د روغتیا، سلامتی او خیریت لپاره تهیه شوی، غلط او بی ځایه استعمال نکړی.

**ستاسو د کار مالک باید تاسو ته ووائي:**

- د هغه خطر په باره کی چی ستاسو صحت او سلامتی ته د اوسنی کار یا راتلونکی فعالیت څخه پیدا کیږی.
- د هغه ځیزونو او بدلون په باره کی چی کیدای شی تاسو ته صدمه ورسوی او یا ستاسو پرصحت او سلامتی اغیزه وکړی.
- چی څنګه خپله وظیفه او کار په سالمه او مطمئنه توګه اجراء کړی.
- چی ستاسو د روغتیا او سلامتی د محافظت لپاره څه تدابیر نیول شوی دی.
- د لومړنیو مرستو علاج څرنګه اخیستلای شی.
- د ناڅاپه پیښو په وخت کی څه باید وکړی؟

**ستاسو د کار مالک باید تاسو ته په وړیا توګه لاندینی شیان تهیه کړی:**

- د کار د بی خطره او مصئون سر ته رسولو لپاره ښوونه او ټریننګ
- تاسو ته د کار په جریان کی د ضرورت په صورت کی محافظت (لکه



اغوستن لباس"، بوټونه د سترګو او غوږونو محافظ، دستکشی، ماسکونه او داسی نور.)

- د روغتیا معاینه کول که چیرته د کار له امله د ناروغتیا خطر موجود وی.
- د روغتیا عادی معاینات که د شپی کار کوئ او یا کار نوی پیل کوئ.

(**نوټ :**که تاسی په مکمله توګه د ځان لپاره کار کوئ او د کار بل مالک و نه لرئ تاسو پخپله د لومړنئ مرستو د علاج، د روغتیایی زده کړو، محافظتی وسائلو، د روغتیائي معایناتو او د کار د وخت د تعین او ترتیب مسئولیت په غاړه لرئ).

**ستاسو د کار مالک باید تاسو ته لاندینی معلومات برابر کړی:**

- د روغتیا او سلامتئ قانون- چی تاسو باید پری پوه شئ، دا به تاسو ته په مشرحه توګه هغه خلک در په ګوته کړی چی تاسو سره مرسته کولی شی.
- د هغوی د روغتیا او سلامتئ د پالیسئ رساله
- د کار د مالک د امکاناتو (تقریبی بیمی ) د تصدیق اوسنی او تازه نقل چی ستاسو د کار په ځای کی په ښکاره ډول د لیدلو وړ وي.

**که تاسو د روغتیا او سلامتئ په اړوند د کوم مشکل او لانجی سره مخ شوئ کولای شئ چی:**

- د (HSE)د معلوماتو په ټیلیفون (08701 545500)د مشوری او یا شکایت لپاره ټیلیفون وکړئ.
- او یا (TCU) ته د خپلو حقوقو د پوهیدلو لپاره په (08706004882) ټیلیفون وکړئ.
- که غواړئ له چا سره ستاسو په خپله ژبه خبری وکړئ نو لطفا (08701545500)ته ټیلیفون وکړئ او اپرټر ته وواياست چی په کومه ژبه خبری کول غواړئ.
- که تاسو د روغتیا او سلامتئ د مشکل له امله کار له لاسه ورکړی وی او بیکاره شوی یاست تاسو ددی حق لرئ چی د کار او استخدام یو عدالت ته شکایت وکړئ .په دی اړه خپلی تجارتی اتّحاديي یا د ښاریانو دمشوری بیورو (دفتر (Local Citizens Advice Bureau) )ته د مشوری اخیستلو لپاره مراجعه وکړی.

